## دافغانستان داسلامي جمهوريت او ترکمنستان جمهوريت داقتصادي سوداګريزي او تخنيکي ګډومرستو دکميسيون لومړي غونډه

ديوي اقتصادي او سوداګريز پريکړن ليك دځلورمي مادي له مخي چه د2007 ميلادي کال دجولاي په 14 نيته چه د دواړو حکومتونو ترمنځ لاسليك شو اوپه نتيجه کښي اقتصادي سوداګريزي اوتخنيکي ګډ بين الحکومتي کميسيون جوړه شو. د 2008 ميلادي کال دجولاي په 11 نيته دترکمنستان جمهوريت پايتخت عشق آباد ښارکښي جوړه شوه چه په هغه کښي دافغاني پلاوي مشري داقتصاد وزيرښاغلی ډوکترمحمد جليل " شمس " او دترکمني پلاوي مشري دهغه هيواد داقتصاد او پراختيا وزير ښاغلی قربان برادوف په غاړه لرله.

ددوارو هيوادونو ترمنځ داوږد محالو دوه اړخيزو اړيکو په ځانګړی توګه دسوداګری ، صنعت ، کانونو ،انرژي او نورو برخو کښي اوږد خبري اتري وشوي چه په نتيجه کښي لاندي پريکړي وشوي.

- د پريکړن ليکونو دحقوقي بنستونو دپراختيا .
- دسواداګري او اقتصادي مرستو دپراختيا .
- دګمرکونو، صنعت، حمل ونقل ، مخابرات ، اوکرني دهمکاري پراختيا
- داوبو دسرچينو څخه ګډي ګټي اخيستني په برخه کښي همکاري.
- په تعليمي اوتربيتي ،فرهنګي،ورزشي اوانساني سرچينو په برخه کښي همکاري.
- دواړو خواو پريکړه وکړه چه دکميسيون دوهمه غونډه په 2009 ميلادي کال کښي دافغانستان پايتخت کابل ښار کښي جوړه شي. چه پوره نيته به ئي دديپلوماتيکو سرچينو له لاري يوبل ته واورول شي.